مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۷ د تلې ۲٤مه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۱٦مه | دویم کال| ۲٦۹مه گڼه

## ځېره
۴ مخ

### فرېډ ترمپ

فرېډ یو بریالی سوداګر و، هغه په امریکا کې عصري او تر ټولو بهترین رستورانټ جوړ کړ چې وروسته یې دغه کار ته پراختیا ورکړه او په همدې کار کې میلیونر هم شو.



# د طالبانو د خبرداري په غبرګون کې؛
# د ټاکنو کمېسیون له دیني عالمانو وغوښتل خو خلک په ټاکنو کې ګډون ته وهڅوي


۳

## ولسمشر په پروان کې د ځینو پروژو پرانیسته وکړه



ولسمشر محمداشرف غني د یو لوړپوړي پلاوي په مشرۍ پرون پروان ته تللی و او هلته یې ځینې پروژې پرانیستې.
د ارګ له خوا په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې غني پروان ولایت ته تر رسېدو وروسته د «باریکاب» د صنعتي او کرنیز پارک د کار پرانیسته وکړه.
دغه پارک په ۱۰۲۵ جریبه ځمکه کې جوړ شوی او تر اوسه یې ۳۴۰ نومرې پر صنعتکارانو وېشل شوې دي.
محمد اشرف غني د خپل دغه سفر په ترځ کې د جبل السراج – نجراب سړک لومړی فاز هم پرانیست.
دغه ۲۲.۴۸ کیلومتره سړک د اسیا پراختیایي بانک په مالي لګښت په اساسي ډول قیر شوی.
د یادونې وړ ده چې ولسمشر غني تر دې وړاندې هم ځینو ولایتونو ته سفرونه کړي او هلته یې د ځینو پروژو پرانیسته کړې ده.

پر ډیورنډ د اغزن سیم لګول او یو ابهام
۲ مخ

پوستي ټکټ د چین او افغانستان د ورته والي او دوستی ښکارندویي کوي
۲ مخ

د افغانستان خراب امنیتي وضعیت او د ولسي جرګې ټاکنې
۳ مخ

## د سیمه ییز پوځ لومړی ډلې تر روزل کېدو وروسته په ننګرهار کې کار پیل کړ

په ختیځ کې د ۲۰۱ سیلاب قول اردو په روزنیز کمپ کې روزل شوي د سیمه ییزې اردو درې ټولي تر فراغت وروسته د ننګرهار دریو ولسوالیو ته ولېږل شول.
د چارواکو په وینا، دغه ۳۴۰ کسان به په پچیراګام، هسکې مېنې او خوږیاڼو ولسوالیو کې پر دندو وګومارل شي.
د سیلاب قول اردو درستیزوال تورن جنرال اسدالله کوهستاني وایي چې د سیمه ییزې اردو دغه سرتېري د پچیراګام، خوږیاڼو او هسکې مېنې ولسوالیو اوسېدونکي دي او ببرته په همدغو سیمو کې پر دندو ګومارل کېږي.
کوهستاني وایي چې یاد سرتېري به د ټاکنو په ورځ هم د امنیت په ټینګښت کې ونډه واخلي.
د سیلاب قول اردو د ښوونې او روزنې مسوول ډګروال رحمت الله وایي، له زده کړو تازه فارغ شوي ۳۴۰ کسان د ولسونو په خوښه انتخاب شوي، درې میاشتې یې نظامې روزنه لیدلې او تمه ده چې د امنیت په ټینګښت کې مهم رول ولوبوي.
د یادولو ده چې تر دې وړاندې هم سیلاب قول اردو د لغمان او کاپیسا ولایتونو لپاره د سیمه ییز پوځ دوه ټولي فارغ کړې چې اوس عملاً په دغو ولایتونو کې پر دندو بوخت دي.
په سیمه ییز پوځ کې هغه کسان پر دندو ګومارل کېږي چې وړاندې یې د ملي اردو په لیکو کې دنده ترسره کړې وي.
که څه هم د ملي دفاع وزارت د سیمه ییز پوځ د رامنځته کولو ننګه کوي، خو شنونکي وایي چې د امنیت د ښه ټینګښت لپاره باید د ملي اردو پر ښه تجهیز او روزنې تمرکز وشي.

## د وکیلانو د غیرحاضرۍ له کبله د ولسي جرګې پرونۍ غونډه ونه شوه


۲ مخ

## شورای عالی صلح: پس از ختم جنگ می‌شود دربارۀ خروج نیروهای خارجی از کشور بحث کرد




شورای عالی صلح، می گوید که طالبان به تنهایی صلاحیت بحث در بارۀ بیرون شدن نیروهای خارجی از افغانستان را ندارند و باید تمامی شهروندان افغانستان در این تصمیم، سهیم باشند.
عطاالله سلیم، معاون شورای عالی صلح به رسانه ها گفته است که واشنگتن در گفت‌وگوهای صلح با طالبان، باید ثبات و امنیت همیشگی افغانستان را در نظر بگیرند.
عطاالله سلیم می‌افزاید: «بیرون شدن نیروهای خارجی، از موضوعاتی است که پس از تأمین امنیت و پس از ختم جنگ می‌شود که آن وقت روی آن بحث صورت بگیرد و آن هم یک بحث ملی را می‌طلبد.»
بیرون شدن نیروهای خارجی از افغانستان، سال‌هاست که خواست اصلی طالبان برای آغاز گفتوگوهای صلح بوده است، اما شورای عالی صلح در این باره چنین دیدگاهی دارد: «چون تحت همین عنوان زیاد فعالیت داشته می‌خواهند به حیث یک سوژۀ تبلیغاتی از آن کار بگیرند و الی موضوعات زیاد دیگری هستند که آنان اولویت دارند.»
این در حالیست که زلمی خلیلزاد، نماینده ویژه وزارت امور خارجه امریکا برای صلح افغانستان به تازه‌گی با اعضای دفتر قطر طالبان دیدار کرده و جزئیات این دیدار را با سران حکومت وحدت ملی نیز در میان گذاشته است.
در اعلامیه طالبان بر ادامه گفتوگوها برای صلح تأکید شده است. پیش از این نیز نماینده‌گان طالبان در دوحه با الیس ویلز، معاون وزیرخارجه امریکا در بخش جنوب آسیا گفت‌وگوهایی داشتند، اما این گفتوگوها ادامه نیافتند.

الحاج محمد نعیم وردګ
له کابل ولایت څخه ولسي جرګې ته خپلواک نوماند
زما موخه د الله تعالی رضا او د خلکو خدمت دی
ټاکنیزه شمېره ۵۳۵
د پاڼې شمېره ۱۰
ټاکنیز نښان



دریـځ

## پر ډیورنډ د اغزن سیم لګول او یو ابهام

په داسې حال کې چې د ملي یووالي حکومت د کار موده په پای ته رسېدو ده، له پاکستان سره د دغه حکومت د اړیکو د څرنګوالي په اړه اندېښنې او پوښتنې لا هم پر ځای دي. دغه حکومت د کار له پیل سره سم له اسلام آباد سره د اړیکو رغولو لپاره ډېرې هڅې وکړې. د همدې هڅو په لړ کې یې، د پاکستان خلاف د افغانانو حساسیت ته له پام پرته، داسې ګامونه پورته کړل چې د افغان لوري ګټې پکې نه وې خوندي شوې. د دغه ډول اقداماتو یو مثال له ای اېس ای سره چې د افغان دولت د وسله والو مخالفینو تر ټولو ستر ملاتړی ګڼل کېږي، د استخباراتي معلوماتو د شریکولو تړون و. د رسنیو له لوري د دغه تړون له افشا کېدو وروسته جدي غبرګونونه را پورته شول.

له پاکستان سره د اړیکو په برخه کې یو عمده ابهام لا هم پر خپل ځای دی: پر ډیورنډ کرښه د اغزن سیم له لګولو سره هوکړه، په داسې حال کې چې افغان حکومت له پاکستاني اړخ سره د داسې یوې هوکړې شتون ردوي، خو په دې تړاو اقدامات یې پوښتنې پاروونکي دي. پاکستان په یو اړخیز ډول، پر افغانستان د دغه تپل شوې کرښې، پر ډېره برخه اغزن سیم لګولی او دغه کار لا هم روان دی. د یکشنبې په ورځ هم افغان ځواکونو د کندهار په ښورابک ولسوالۍ کې د پاکستاني پوځیانو له لوري پر ډیورنډ د اغزن سیم د لګولو مخه ونیوله چې وروسته نښته رامنځته شوه. تر نښتې وروسته پاکستاني اړخ په بولدک کې د دوستۍ په نوم دروازه هم وتړله.

د کندهار امنیه قوماندان وایي په ځلونو یې مرکزي حکومت ته خبرداری ورکړی چې پاکستان په غیر قانوني ډول پر ډیورنډ کرښه اغزن سیم لګوي، خو مرکزي حکومت دغو خبرداریو ته پام نه کوي. پاکستاني اړخ بیا په کندهار کې تر وروستۍ نښتې وروسته شکایت کړی چې د کندهار امنیه قوماندان په دې تړاو د مرکزي حکومت هوکړه نه مني.

پر ډیورنډ د اغزن سیم د تاوولو په تړاو له پاکستان سره د احتمالي معاملې موضوع یو عمده ابهام دی چې مرکزي حکومت، په ځانګړي ډول ارګ، باید ورته د پای ټکی کېږدي. که حکومت په دې تړاو کومه هوکړه کړې وي، دا نو بیا په ټوله معنا د ملي ګټو خلاف ګام دی، باید ولس ته وضاحت ورکړي چې ولې یې داسې یو اقدام کړی چې د افغان وطن پر سینه د انګرېزي استعمار له لوري د راښکل شوې کرښې له رسمیت سره مرسته کوي. که داسې کومه هوکړه نه وي، باید را وړاندې شي او په عملي اقداماتو سره افغانانو او نړۍ دواړو ته وښیي چې پاکستان د ټولو نړیوالو نورمونو خلاف پر داسې یوه کرښه اغزن سیم لګوي چې هېڅ راز حقوقي مشروعیت نه لري.



# پوستي ټکټ د چین او افغانستان د ورته والي او دوستۍ ښکارندويي کوي

لیکنه: په افغانستان کې د چین لوی سفیر، لیو جېن سونګ

د اکتوبر نهمه د پوسټ له نړیوالې ورځې سره برابره وه. په افغانستان کې د چین سفارت په همدې ورځ د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ له وزارت سره په ګډه د پوستي ټکټونو ننداړتون جوړ کړ. دا په تېرو څه باندې لسو کلونو کې په افغانستان کې د پوستي ټکټونو تر ټولو لوی ننداړتون دی او پکې ډېر پوستي ټکټونه ننداړې ته وړاندې شول او ډېر ننداړچیان یې راجلب کړل.

پوستي ټکټ د یو هېواد د پېژندنې کارت دی او د یو هېواد د تاریخ او کلتور هنداره هم ده. د افغان پوستي ټکټونو ټولونه او ترې خوند اخیستنه د افغانستان د باعظمته تاریخ د پېژندلو او د افغانانو د مېلمه پالنې او صاف زړه د احساسولو مانا لري. افغان پوستي ټکټونه په ډول ډول موضوعاتو پورې اړه لري او انځورونه یې ډېر ښایسته دي چې په نړۍ کې کم لیدل کېږي. افغان پوستي ټکټونه زما ډېر خوښېږي او غواړم چې ښه مطالعه یې وکړم.

د چین او افغانستان لومړي پوستي ټکټونه هم د ۱۹ مې پېړۍ په اوومه لسیزه کې چاپ او خپاره شول او پکې یې په جلا جلا توګه لوی اسماني ښامار او د زمري سر انځورونه لیدل کېږي. په هغه وخت کې دواړه هېوادونه له کورنیو ستونزو او بهرنیو تېریو سره مخامخ وو او زیاتو برجسته او ممتازو شخصیتونو یې هڅه وکړه چې د پوستي سیستم په ګډون د لوېدیځو نظامونو تقلید وکړي او د خپلو هېوادونو پرمختګ ګړندی کړي. دوی د دې لپاره ډېر کوښښونه کړي، خو د خپلو هېوادونو اصلي برخلیک یې نه دی بدل کړی.

د چین او افغانستان په پوستي ټکټونو کې هم د هغو ملي اتلانو انځورونه زیات لیدل کېږي چې له بهرني تېري سره د مقابلې او ملي خپلواکۍ په غرض یې سرښندنې کړې دي. له دې څخه د امپریالېزم او استعمار پر ضد د دواړو هېوادونو له اتلولیو ډک تاریخ څرګندېږي او ازادۍ، سولې او پرمختګ ته د وګړو هیله ترې ښکارېږي. د دواړو هېوادونو په ځمکو کې بې شمېره اتلان روزل شوي او دواړه هېوادونه د اتلانو او وطن دوستانو درناوی کوي. د چین د ولسي جمهوریت ستر بنسټګر رییس ماوځه دونګ د افغانانو تاریخ ډېر ستایلی و او ویلي یې و چې افغانستان یو اتل هېواد دی او د تاریخ په اوږدو کې یې هېڅکله نورو ته خپل سر نه دی ټیټ کړی.

د چین او افغانستان په زیاتو پوستي ټکټونو کې ښکلې طبیعي منظرې، تاریخي اثار او کم پیدا او ارزښتناک مرغان او ژوي، دغه راز د اقتصاد او د وګړو د ژوند په هکله نوي جوړ شوي تاسیسات هم لیدل کېږي. دا ښیي چې د دواړو هېوادونو وګړي پر خپل کلتور ټینګ باور او د وطن دوستۍ احساسات لري، د خپل هېواد د مشخصاتو سره سم مناسبه پرمختیایي لار لټوي او د خپل هېواد د پرمختګ لپاره هڅه کوي .

۲۰۰۵ ز کال د چین او افغانستان ترمنځ د سیاسي اړیکو د ټینګېدو له پنځوسمې کلیزې سره برابر و. د دواړو هېوادونو پوست ځانګو په همدې کال کې د دغه کال د یادونې ټکټونه چاپ کړل. دا د نوي چین تر جوړېدو وروسته لومړي ورېښمین پوستي ټکټونه وو او د ورېښمو لرغونې لارې پر غاړه د دوو متمدنو لرغونو هېوادونو ترمنځ متقابل باور او دوستي ترې څرګندېږي. نن د یو کمربند او یوې لارې جوړونه چې رییس شي جین پینګ یې وړاندیز کړی او د افغانستان بېلابېلو ټولنو یې هر کلی کړی، د دواړو هېوادونو خلکو ته رښتینې ګټې رسوي او د اقتصاد نړیوال کېدو او د سیمې د یو کېدو په بهیر کې د افغانستان عظمت بیا را ژوندی کوي.

زه ډیپلوماټ یم او د پوستي ټکټونو مینه وال هم یم. هر هېواد ته چې د اوږدې مودې کار لپاره لاړ شم، حتمن به د دغه هېواد پوستي ټکټونه لټوم او مطالعه کوم به یې. دا زما شخصي علاقه ده، بلکې دا له بهرنۍ ډیپلوماسۍ سره ډېر نږدېوالی لري. لومړی د پوستي ټکټونو راټولول علاقې او حوصلې ته اړتیا لري، دغه راز بصیرت، پیسې، دایمي هڅې او د یوازېتوب په وخت کې د زغم شتون هم اړین دی. دغه راز د هېوادونو ترمنځ د اړیکو ساتنه همداسې ده.

دویم- د پوستي ټکټونو راټولوونکو ته د نویو ټکټونو راټولول مهم دي، خو زاړه ټکټونه هم ډېر ارزښت لري. چین یو داسې ډیپلوماټیک دود لري چې زیات نوي دوستان پیداکوي او د دې ترڅنګ زاړه ملګري هم هېڅکله له یاده نه وباسي او کرکه ورڅخه نه لري.

دریم- د پوستي ټکټونو راټولول یو پرانیستي او عادلانه چاپېریال ته اړتیا لري. د نظریو او ټکټونو دوستانه او مساوي تبادله په کار ده، خپلې غوښتنې دې پوره شي او ملګرو ته دې هم ګټې ورسول شي. نه یو اړخیزم، اېسولېشنېزم(isolationism) او ځان غوښتنه یوازې د پوستي ټکټونو د لټولو په ټولنه کې، بلکې په نړیواله ټولنه کې هم د هر کلي وړ نه دي.

د بیجېنګ یو ملګري مې د پوست او پوستي ټکټ په اړه یوه داسې کیسه ویلې وه: «د چین د نړیوالې راډیو یو افغان اورېدونکي چې کوټوال نومېږي، دغې راډیو ته یو پیغام ولېږه، دغه پیغام څه باندې شپږ متره اوږدوالی لري او پکې یې ټول خطونه او انځورونه کوټوال پخپله لیکلي او جوړ کړي دي. نوموړي په خپل پیغام کې لیکلي چې دی او ملګري یې په بل هېواد کې ستونزمن ژوند کوي، خو لاهم پر وخت د چین د نړیوالې راډیو پښتو خپرونې اوري. هغه چین ډېر خوښوي او هیله لري چې په خپل هېواد کې یې د چین په شان سوله او سمسورتیا راشي. نوموړي د یادې راډیو د پښتو څانګې ټولو کارکوونکو ته نېکې هیلې او سلامونه وړاندې کړل، د پښتو خپرونو په اړه یې خپل احساسات او وړاندیزونه ولیکل او ویې ویل چې د چین د نړیوالې راډیو پښتو څانګه د افغانستان او چین د دوستۍ غږ دی، هیله ده چې زیات افغانان د دوی خپرونې واوري.»

د دې کیسې اورېدو زه ډېر اغېزمن کړم، ځکه چې له دې څخه د چینایانو او افغانانو ترمنځ صادقانه دوستي څرګندېږي. نن مور پیغامونه کم لیکو او لېږو، حتی په نوي زمانه کې زېږېدلي ماشومان پوستي ټکټونه کم استعمالوي. دوی whatsapp،twitter،facebook او wechat کاروي او د خطونو له لیکلو او لېږلو سره بلد نه دي، حتی دا تر وخت تېر شوي ګڼي، خو پوست، خط او پوستي ټکټ نه دی ورک شوی او یوازې یې شکل بدل شوی، ځکه چې انسانان د نظریو تبادلې ته ضرورت لري، هېوادونه خپلمنځي دوستۍ ته اړتیا لري. چین او افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د ګډ برخلیک ټولنه پاتې شوې، مور خپلمنځي ورته والي ته ارزښت ورکوو او تر وسې خپلمنځي دوستي ټینګوو، هیله ده چې دواړه هېوادونه په ګډه سره د دغې دوستۍ د یادونې لپاره پوستي ټکټونه چاپ او خپاره کړي.

## د وکیلانو د غیرحاضرۍ له کبله د ولسي جرګې پرونۍ غونډه ونه شوه



ولسي جرګې د ټاکنیزو کمپاینونو تر پیل وروسته هره اونۍ یوازې د دوشنبې په ورځو کې ناسته ترسره کوله، خو پرون د وکیلانو د غیر حاضرۍ له امله دا ناسته هم ترسره نه شوه.

د ولسي جرګې د نوماندانو ټاکنیزې سیالۍ د تلې په شپږمه پیل شوې او د همدې میاشتې تر ۲۵ مې دوام لري. د ولسي جرګې ټاکنې د روانې میاشتې په ۲۸ مه ترسره کېږي.

د ولسي جرګې رییس د تلې په څلورمه ویلي وو چې دا جرګه د ټاکنیزو مبارزو په جریان کې په یوه اونۍ کې یوه ورځ کار کوي، خو کارپوهانو له مصوبې پرته د جرګې دا تصمیم ناقانونه بللی و.

پرون د ولسي جرګې شاوخوا لس غړو په ملي شورا کې حضور درلود او د دې جرګې ناسته ترسره نه شوه.

د ولسي جرګې پرونۍ غونډې ته راغلو د دې جرګې ځینو غړو د وکیلانو پر ناسوبتیا سخته نیوکه وکړه.

په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازي ذکریا ذکریا چې د دې جرګې پرونۍ غونډې ته راغلی و، وویل چې د جرګې زیاتره غړي په ټاکنیزو مبارزو بوخت دي او له همدې امله د دې جرګې پرونۍ غونډه ترسره نه شوه.

هغه زیاته کړه چې پرونۍ غونډې ته د جرګې له منشي عرفان الله عرفان پرته د یادې جرګې د اداري پلاوي غړي هم نه وو راغلي.

نوموړي له خلکو وغوښتل چې هغو نوماندانو ته رایه ورکړي چې مسوولیت منونکي وي.

په ولسي جرګه کې د فاریاب د خلکو استازی عبدالستار درزابي بل هغه کس دی چې د دې جرګې پرونۍ غونډې ته ورغلی و. هغه د ذکریا د خبرو په تایید وویل چې د جرګې د اداري پلاوي ضعف او د زیاتره وکیلانو مسوولیت نه منل د دې لامل شوي چې پرونۍ ناسته ترسره نه شي.

خو د ملي شورا بل حاضر غړي چمن شاه اعتمادي وویل چې د ولسي جرګې ۹۹ سلنه غړي د دې جرګې غړیتوب ته نوماندان دي او حق لري چې د خلکو د رایو د ترلاسه کولو لپاره د خلکو په منځ کې شتون پیدا کړي، :ځکه د ولسي جرګې ټاکنو ته لږ وخت پاتې دی.

## د افغان او پاکستاني ځواکونو تر جګړې وروسته د چمن - سپین بولدک لاره لا هم تړلې ده

پر ډیورنډ فرضي کرښې د اغزن سیم د غځولو په غبرګون کې د افغان سرحدي ځواکونو او پاکستاني ملېشو تر جګړې وروسته د دویمي ورځې لپاره هم د چمن – سپین بولدک لویه لار د ترافیکو پرمخ تړلې وه.

وړمه ورځ ماسپښین دوې بجې د ښورابک او سپین بولدک ترمنځ د سرو ځاهانو په سیمه کې د ډیورنډ فرضي کرښې پر سر د اغزن سیم د کار د مخنیوي لپاره افغان لوري پر پاکستاني ملېشو برید وکړ.

د کندهار د امنیې قوماندانۍ ویاند رسنیو ته ویلي چې جګړې ۸ ساعته دوام در لود.

دی زیاتوي چې د افغان سرحدي ځواکونو په بریدونو کې ۳ پاکستاني ملېشې وژل شوي او ۵ تنه نور ټپیان دي او د اغزن سیم د غځولو کار درول شوی.

نوموړي زیاته کړې: «جګړه اوس درېدلې. پاکستاني لوري هم په سیمه کې خپل په لوړ شمېر کې کسان ځای پر ځای کړي او زموږ له طرفه هم سیمې ته تازه دمه سرتېري په شپه کې رسېدلي. زموږ خوا ته کوم تلفات نشته خو هغه معلومات چې موږ ترلاسه کړي ۳ پاکستاني ملېشه په پرونۍ جګړه کې وژل شوي او ۵ نور یې ټپیان دي».




سرچینه زیاتوي چې پاکستاني لوری په سیمه کې تر صفري نقطې هم په ځینو برخو کې سل متره او په ځینو برخو کې تر دې لږ د افغانستان خاورې ته ننوتلی او اغزن سیم غځوي.

د امنیه قوماندانۍ ویاند وایي چې افغان سرحدي ځواکونه به تر هغو په سیمه کې په لومړۍ درجه چمتووالي کې وي چې د دواړو هېوادونو مرکزي پلاوی د ستونزې حل لاره را وباسي.

په ورته وخت کې د سپین بولدک او چمن دروازه چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د دوستۍ د دروازې په نوم یادېږي پرون د دویمې ورځې لپاره هم تړلې وه.

پر یاده لار هره ورځ له دېرش زره څخه تر څلوېښت زره پورې کسان تګ راتګ لري.

# د افغانستان خراب امنيتي وضعيت او د ولسي جرګې ټاکنې

د سيمه ييزو او ستراتيژيکو څېړنو مرکز

له ټاکنيزو اصلاحاتو را وروسته د ولسي جرګې د ټاکنو ترسره کول، د ملي يووالي حکومت له مهمو او لويو ژمنو څخه وو؛ خو د عملي کېدو لپاره يې د ملي يووالي حکومت له نږدې څلور کاله ځنډ وروسته اماده شو او د دغې پروسې عملي چارې يې پيل کړې.

د ولسي جرګې د ټاکنو ترسره کېدو عملي پروسه داسې مهال پيلېږي چې په هېواد کې امنيتي وضعيت د پخوا په پرتله خورا خراب شوی او د رواني جګړې له کبله هره ورځ د لسګونه کسانو ژوند اخيستل کېږي. همدې وضعيت ته په کتو سره د ټاکنو پر مهال د ګڼو نورو ستونزو سربېره، د هېواد خراب امنيتي وضعيت هغه ستره ننګونه بلل کېږي چې هم د ټاکنو پروسه ګواښي، هم رايه ورکوونکي او هم ولسي جرګې ته نوماندان.

د ولسي جرګې ټاکنې، د هېواد امنيتي وضعيت او د دغو ټاکنو پر وړاندې شته امنيتي ګواښونه او دا چې له دغو ټولو ننګونو سره ـ سره به د ولسي جرګې ټاکنې څومره سرتاسري او رښې وي؟ دا هغه پوښتنې دي چې دلته يې د ځوابونو هڅه شوې ده.

د ولسي جرګې ټاکنې

په افغانستان کې د ولسي جرګې کاري دوره د اساسي قانون د ۸۳مې مادې د دويم بند له مخې د چنګاښ (سرطان) پر لومړۍ نېټه پای ته رسېږي. د اساسي قانون دغه ماده وايي: «د ولسي جرګې د کار دوره د پنځم کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه، د ټاکنو د پايلو له اعلان څخه وروسته پای ته رسېږي او نوې شورا په کار پيل کوي.»

د اساسي قانون د همدې حکم پر بنسټ د اوسنۍ ولسي جرګې کاري موده د ۱۳۹۴ ل کال د جوزا تر وروستيو پای ته رسېدلې او بايد نوې ولسي جرګې يې پر ځای خپل کار پيل کړی وی؛ خو د ملي يووالي حکومت د خپلمنځي اختلافونو له کبله په ټاکلې نېټه د دغو ټاکنو په ترسره کېدو بريالی نه شو او د همدې ولسي جرګې کاري موده يې د بياځلې ټاکنو د ترسره کېدو تر وخته وغځوله.

د دريو کلونو په تېرېدو بالاخره د ملي يووالي حکومت په دې بريالی شو چې د ۱۳۹۷ ل کال د ميزان ۲۸مه د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د وروستۍ نېټې په توګه اعلان کړي او د ټاکنو د ترسره کېدو لپاره عملي کار پيل کړي؛ خو له دې ټولو سره سره د ټاکنو کمېسيون او سياسي احزابو ترمنځ اختلافونه، په ټاکنو کې پر روڼتيا بې باوري او امنيتي ننګونې هغه څه دي چې رواني ټاکنې ګواښي.

ناامني؛ د ټاکنو پر وړاندې يوه ستره ننګونه

په افغانستان کې خراب امنيتي وضعيت او ورځ تربلې پراخېدونکې جګړه، د ولسي جرګې د ټاکنو پر وړاندې عملاً يوه ستره ننګونه ده. د نړيوالو ادارو د راپورونو پر بنسټ، د افغانستان نږدې نيمايي خاوره د حکومت د وسلهوالو مخالفينو تر کنټرول لاندې ده. دغه راز د ملګرو ملتونو سازمان په وينا، په افغانستان کې د ناسم امنيتي وضعيت او رواني جګړې له کبله، يوازې په تېرو څلورو کلونو کې د دغه هېواد ۴۰ زره ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

که څه هم د افغان دولت امنيتي بنسټونه د ټاکنو د هر مرکز د امنيت ساتنې په اړه ډاډ ورکوي او په وينا يې د ټاکنو د امنيت خونديتوب په موخه ۵۴ زره افغان پوځيان ګمارل شوي دي؛ خو خلک او د ټاکنو څارونکي بنسټونه د ټاکنو د امنيت په تړاو اندېښمن دي. ځکه د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د نوم ليکنې د بهير له پيل سره، د ټاکنو کمېسيون د کارکوونکو، عامو خلکو او نوماندانو لپاره امنيتي ګواښونه هم پيل شول چې له امله يې د هېواد په ډېرى سيمو کې خلکو په ټاکنو کې د ګډون لپاره نوم ليکنه هم ونه کړه.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون په وينا په ټول افغانستان کې امنيتي بنسټونو ته د رای اچونې د ۷۳۸۴ مرکزونو د امنيت خونديتوب وړانديز شوی و؛ خو وضعيت ته په کتو سره افغان امنيتي ځواکونه يوازې د ۵۱۰۰ مرکزونو د امنيت په خونديتوب توانېدلي دي. يعنې د خراب امنيتي وضعيت له کبله د هېواد په مختلفو سيمو کې، نږدې ۲۰۰۰ مرکزونه کم شوي دي.

دغه راز د هېواد په مختلفو ښارونو کې د ټاکنو لپاره د نوم ليکنې د مرکزونو له پرانيستلو سره سم پر دغو مرکزونو بريدونه هم پيل شول. د يوناما د راپور پر بنسټ يوازې د رای ورکوونکو د نوم ليکنې له پيله بيا د ۱۳۹۷ ل کال د ثور مياشتې تر وروستيو، د نوم ليکنې پر ۲۳ مرکزونو بريدونه شوي چې له امله يې ۲۷۱ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. په دغه بريدونو کې تر ټولو خونړی يې د پلازمېنې کابل په دشت برچي سيمه کې د نوم ليکنې په يوه مرکز و چې له امله يې نږدې ۲۰۰ تنو ته مرګ ژوبله واوښته.

پر دې سربېره ولسي جرګې ته نوماندان هم له امنيتي ګواښونه سره مخ دي. د راپورونو پر بنسټ د نوماندانو د لومړني لېست له اعلانه تر دې دمه، ولسي جرګې ته اته تنه نوماندان د افغانستان په مختلفو ښارونو کې د وسله والو له لوري وژل شوي دي. دغه راز تېره اونۍ د نوماندانو د ټاکنيزو مبارزو له رسمي پيل سره په ننګرهار کې ولسي جرګې ته د يوه نوماند په غونډه بريد وشو او له امله يې لسګونه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته.

ايا ټاکنې به سرتاسري او رښې وي؟

ولسي جرګه په ولسواکو نظامونو کې د ملت د کور حيثيت لري او د يوه هېواد له ټول ملت څخه استازيتوب کوي. ولس په مستقيمه توګه د ټاکنو له لارې د خپلې خوښې استازي ټاکي، څو په راتلونکي کې د دوی رښتينې استازيتوب وکړي.

په افغانستان کې هم له ۲۰۰۱ ز کال وروسته د نوي نظام په رامنځته کېدو سره د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت پر مهال د ولسي جرګې لپاره ټاکنې ترسره شوې؛ خو په دغه ټاکنو کې د فساد او تقلب له امله ځينې داسې کسان ولسي جرګې ته راغلل چې د خپل ملت په ارزښتونو يې سودا وکړه، نه يې د ملت استازيتوب وکړ او نه يې ملت ته د خپلو کړنو ځواب ووايه، هرڅه يې چې کول د خپلو شخصي ګټو ترلاسه کولو لپاره يې وو.

د ولسي جرګې اوسنۍ ټاکنې يو ځل بيا په داسې شرايطو کې ترسره کېږي چې له يوې خوا په هېواد کې خراب امنيتي وضعيت د ټاکنو د سرتاسريتوب مخه نيولې او له بلې خوا په هېواد کې د پراخ اداري فساد د موجوديت له کبله داسې اندېښنې هم شته چې رواني ټاکنې به يو ځل بيا د تقلب او فساد تر سيورې لاندې راشي. ځکه په يوه هېواد کې سرتاسري او رښې ټاکنې په هماغه هېواد کې د شته دولت له لوري پر خپل ملت او خاوره د پوره حاکميت درلودو سره مستقيم تړاو لري؛ خو په افغانستان کې له يوې خوا افغان دولت د جګړې او ناسم امنيتي وضعيت له کبله په ټوله خاوره حاکميت نه لري او له بلې خوا په ټاکنيزه پروسه کې د فساد او تقلب د موجوديت له کبله د ټاکنو پر روڼتيا د خلکو ترمنځ بې باوري خپل اوج ته رسېدلې ده او دا هغه موارد دي چې د ولسي جرګې د ټاکنو مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي.

له دې ټولو سره سره بيا هم اړتيا ده چې په رڼه توګه د ټاکنو د ترسره کېدو لپاره، لږ تر لږه په هغه سيمو کې چې له نسبي امنيت څخه برخمنې دي، هڅه وشي او ولس وړ او علمي شخصيتونو ته رايه ورکړي چې په راتلونکي کې د همدې ملت د افکارو، ارزښتونو او ګټو لپاره رښتينې مبارزې او د ملت استازولي وکړي.

## د طالبانو د خبردارۍ په غبرګون کې؛

# د ټاکنو کمېسيون له ديني عالمانو وغوښتل څو خلک په ټاکنو کې ګډون ته وهڅوي



د ټاکنو د خپلواک کمېسيون مشر له ديني عالمانو وغوښتل، څو خلک په ټاکنو کې ګډون کولو ته وهڅوي.

د کمېسيون مشر عبدالبديع صياد پرون په کابل کې يوې غونډې ته د خبرو پر مهال وويل چې ديني عالمان بايد د ټاکنو د بهير د لا بريالیتوب لپاره له خپل اغېزا او نفوذ څخه ګټه واخلي.

د هغه په خبره، له ناخوالو او بحران د وتلو يوازېنۍ لار ټاکنې دي.

د ټاکنو کمېسيون دا ګام په داسې مهال کې اخلي چې تېره اونۍ طالبانو د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره له افغانانو وغوښتل چې په ټاکنو کې ګډون ونه کړي.

د ټاکنو د خپلواک کمېسيون مشر وويل: «ديني عالمانو! دا تاسو پورې تړل کېږي چې خلکو ته څنګه لارښوونه کوی چې چا ته بايد رايه ورکړي، داسې يوه کس ته بايد رايه ور کړي چې په ولسي جرګه کې د دوی سم استازيتوب وکړي. اسلامي ارزښتونو او اصولو ته درناوی ولري.»

دا لومړی ځل دی چې افغان ځواکونو په يوازې سر د ټاکنو امنيت نيسي.

د ټاکنو د روڼتيا په تړاو د اندېښنو تر څنګ، د ټاکنيزو مرکزونو او رايه ورکوونکو امنيت لويه اندېښنه ګڼل کېږي. دا اندېښنه په داسې حال کې ده چې د ټاکنو د امنيت د ټينګښت مسووليت د لومړي ځل لپاره افغان ځواکونو ته ور په غاړه شوی دی.

د ملګرو ملتونو يو رپوټ وايي، له تېرو پنځو مياشتو راهيسې د ټاکنو په بهير کې تر سلو ډېر کسان وژل شوي او تر ۲٦۰ نور ټپيان شوي دي.

د ټاکنو کمېسيون هم وايي چې د ولسي جرګې نهه نوماندان په بريدونو کې وژل شوي دي.

له دې ټولو سره سره د کورنيو چارو وزات د ټاکنو د امنيت لپاره خپل پلان اعلان کړی او ډاډ ورکوي چې د ټاکنيزو مرکزونو او رايه ورکوونکو امنيت به خوندي کړي.

د کورنيو چارو وزارت وياند نجيب دانش وايي، د امنيتي پلان له مخې د ټاکنو بهير د امنيت د خونديتوب لپاره د رايې مرکز ته نږدې په اول کمربند کې استخبارات او پوليس ځای پر ځای کېږي: «له درې سوو تر پنځه سوو مترو واټن کې ملي اردو او درېيم کمربند کې افغان پوځ، پوليس او استخبارات په ګډه ګرځنده او ثابته دنده لري.»

نوموړی دا هم وايي چې د ټاکنيز بهير ټول مسووليت د افغان ځواکونو پر غاړه دی او که اړتيا شي نور سرتېري به هم وګوماري.

د دفاع وزارت وياند وايي چې افغان پوځ د رايه ورکوونکو، نوماندانو او کارکوونکو امنيت ته ژمن دی.

نوموړی ټينګار کوي چې: «دفاع وزارت ټول افغان ولس ته ډاډ ور کوي چې په ارامه فضا کې په ټاکنو کې ګډون وکړي. هوايي او ځمکني ځواکونه په هر حالت کې امنيت ته ژمن دي او که د نورو ځواکونو اړتيا هم شي تيار دي او مرسته به رسوي.»

نوموړی د امنيتي اندېښنو په غبرګون کې وايي چې د ټاکنو لپاره د ۵۰ زرو سرتېرو ځای پرځای کول امنيتي تشه نه رامنځته کوي.

د چارواکو په وينا شاوخوا ۳۰۰ زره امنيتي او دفاعي سرتېري به په لومړۍ درجه احضاراتو کې وي.

# ټرمپ د روسيې ولسمشر د خپلو مخالفينو په وژلو تورن کړ



د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ وايي چې د روسيې ولسمشر ښايي د خپلو مخالفينو په وژلو کې لاس ولري.

ټرمپ له «CBS» ټلوېزيون سره په مرکه کې د دې پوښتنې په ځواب کې چې ايا پوتين رښتيا هم د خپلو منتقدينو په وژلو کې لاس لري، وويل: «ښايي هغه په دې وژنو کې لاس ولري».

که څه هم د پوتين ډېری منتقدان په مشکوکو مسموميتونو او نورو مرموزو طريقو سره وژل شوي، خو سمدستي معلومه نه ده چې په دې مرکه کې د ټرمپ اشاره په کومو وژنو کې د روسيې د ولسمشر لاس لرلو ته وه.

په دې مرکه کې له ټرمپ څخه د امريکا د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د روسيې د لاسوهنو په اړه وپوښتل شول او ده په ځواب کې وويل، هو مسکو په دې ټاکنو کې لاسوهنه کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا استخباراتي ادارو او په دې اړه د څېړنو يوې ځانګړې کمېټې ويلي چې روسيې پر ټولنيزو شبکو د يو پراخ کمپاين او د ډيموکراټ ګوند د اسنادو د هک کولو له لارې د امريکا د ۲۰۱٦ ز کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د ټرمپ په پلوۍ د لاسوهنې هڅه کړې ده، خو روسيې دا تورونه رد کړي دي.

ټرمپ دغه راز د امريکا د دفاع وزير جېمز مټيس په اړه ويلي، دی ډاډه نه دی چې مټيس به پر خپله دنده پاتې شي.

ټرمپ زياته کړه: «زه له مټيس سره ښه اړيکې لرم او دوه ورځې مخکې مو يو ځای ډوډۍ وخوړه. له هغه سره زما اړيکې ښه دي، خو که رښتيا ووايم نو هغه يو څه ډيموکراټ دی. کېدای شي چې خپله دنده پرېږدي. هر څوک يوه ورځ نه يوه ورځ خپله دنده پرېږدي، دا واشنګټن دی».

که څه هم مټيس ته د ټرمپ د کابينې د تر ټولو مستقل وزير په سترګه کتل کېږي، خو په عين حال کې په داسې يوه اداره کې چې تر ټولو زيات بدلونونه پکې راغلي، هغه تر ټولو ثابت وزير و.

## د کتاب خبرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

- لیکوال: جان مکسوېل
- ژباړن: میراحمد یاد

### اوومه ځانګړنه

**بصیرت:**



**ناحل شویو معماوو ته د پای ټکی کېږدئ**

ځیرک رهبران چې څه اوري، نیم یې مني، خو بصیرت لرونکي رهبران بیا په دې پوهېږي چې کومه نیمايي یې ومني.
(جان مکسوېل)

د کیندنو لومړی قانون:
ځو چې په کنده کې یئ، له کندې کیندلو لاس واخلئ.
(مولي ایوینز)
«ورځپاڼه لیکونکی»

**تل د موضوع په تَل کې**

ماریا سکلودوکا به تل هڅه کوله چې د موضوعاتو تل ته ښکته شي. په ماشومتوب کې یې به لهستان کې له خپلو زده کړو او ښوونځي سره مینه درلوده. د ماریا مور و پلار چې له دندې ووتل او وزګار شول، دې به ساعتونه ساعتونه له مور و پلار سره په کارونو کې مرسته کوله، خو دې بوختیا په ښوونځي کې له اول نومره‌ګۍ پاتې نه کړه. سره له دې چې آزموینې یې په روسي ژبه اخیستل کېدې.
دا چې د لوړو زده‌کړو زمینه ورته نه وه مساعده، نو ښوونکې شوه. دې ډېرې پیسې ټولې کړې او خپله مشره خور یې د پاریس طبي پوهنتون ته ولېږله. وروسته بیا خپله هم فرانسې ته لاړه چې په سوربون پوهنتون کې درس ووایي. دوه کاله وروسته په فزیک کې اول نومره شوه او یو کال وروسته یې په ریاضي کې مافوق لیسانس سند واخیست. په دې وخت کې یې خپل ټول وخت څېړنو ته ورکړ او یوې فرانسوي صنعتي ټولنې ته یې کار پیل کړ، دې له خپل کار سره دومره مینه لرله او دومره په شوق کار یې کاوه چې د یوارنیمو د شعاع راز یې وموند.
ماریا د ښه لابراتور په لټه وه چې د (پییري) په نوم له یوه سړي سره مخ شوه او بیا یې ورسره واده هم وکړ. تاسې به د ماریا سکلودوسکا نوم ډېر اورېدلی وي، خو بیا یې چې له (پییري) سره واده وکړ، خپل تخلص یې هم د مېړه هغه کېښود او په مېډم ماریا پییر کیوري مشهوره شوه.
مېرمن کیوري د راډیو اکتیف په برخه کې د پام وړ کارونه وکړل او د هستوي فزیک په اړه مطالعاتو ته یې لار پرانیسته. په ۱۹۰٦ ز کال کې (پییر کیوري) په یوه پېښه کې مړ شو، خو مېرمن یې ماریا کیوري خپلو کارونو ته دوام ورکړ او لویې لاسته راوړنې یې وکړې.
دې یو وخت ویلي وو: (ژوند اسانه نه دی، خو څه به کوو؟ مهارت او استقامت باید ولرو، دا به منو چې مونږ هر یو د یوه کار کولو وړتیا لرو او دا کار باید وشي.)
مېرمن کیوري نه یوازې له زده کړو سره ډېره لېوالتیا لرله، بلکې له خپلو څېړنو او ازمېښتونو سره یې هم ډېره مینه لرله. د لومړۍ نړیوالې جګړې پر وخت، دې پایلې ته ورسېده چې د دې کشفیات کولای شي د خلکو ژوند خوندي کړي، په دې خاطر یې د خپلې لور (ایرن) په ملتیا د راډیوګرافۍ کارونه پیل کړل او وروسته یې بیا امبولانسونه په ایکس ری (وړانګو) سمبال کړل. مېرمن کیوري د دې کار لپاره ۵۰۱ ټیکنیشنان وروزل. کوري په پاریس پوهنتون کې د رادیوم انستیتیوت په پرانیستلو کې هم مرسته وکړه. دې نه یوازې د لابراتوارونو د جوړېدو څارونه کوله، بلکې په امریکا او اروپا کې یې ورته چنده هم وکړه او په وسایلو یې سمبال کړل. کیوري به ویل: (په ژوند کې له هېڅ شي څخه وېره نه ده پکار، یوازې باید هغه شی درک کړو.) د دې همدا درک او بصیرت و چې زمونږ په ژوند یې مثبت اغېز وکړ. خو دغو شیانو د دې خپل ژوند ونه غځاوه، ځان یې له راډیو اکتیف موادو او د هغې له شعاوو خوندي نه کړ او خپل کار ورو ورو ووژله، یو ناڅاپه یې صحت خراب شو او د ٦٦ کالو په عمر د سرطان له امله مړه شوه.

**دې ته تم شئ**

بصیرت د ستونزو د ریښې موندلو وړتیا ده. دا په کتنې هم کېدای شي او په عقلاني فکر هم. اغېزناک رهبران بصیرت ته اړتیا لري، خو زیاتره رهبران یې نه لري. مثلاً د رهبرانو دا خبرې ولولئ، دا زه د دوی مشهورې وروستۍ خبرې بولم:
زه درته وایم چې ویلنګتن ښه جنرال نه دی، انګرېزان ښه سرتېري نه دي؛ نورې خبرې به د ډوډۍ پر وخت وکړو.
ناپیلیون بناپارت له واترلو جګړې وړاندې (۱۸۱۵) له خپلو جنرالانو سره د سهارنۍ پر وخت
فکر کوم نړیوال بازار به د ۵ کمپیوټرونو لپاره وي.
توماس واتسن، د IBM شرکت اجرائیوي رئیس (۱۹۴۳)
زه شخصي ساتونکو ته اړتیا نه لرم.
جیمي هوفا، له ورکېدو یوه میاشت وړاندې (۱۹۷۵)
هر رهبر که غواړي چې اغېزه یې لوړه شي، بصیرت ورته مهم دی، دغو معیارونو ته په ځو کارونو رسېدلی شو:
**دوام لري...**

# فرېډ ټرمپ

حکمت ارین



فرېډرېک کرېسټ ټرمپ د ۱۹۰۵ ز کال د اکټوبر په ۱۱مه په نیویارک کې زیږېدلی دی. پلار یې فرېډرېک ټرمپ او مور یې الیزابېټ کرېسټ له جرمني نه امریکا ته تللي وو. پلار یې په ملکیتونو کې پانګوال و، همدا وو چې زوی یې فرېډ د خپل پلار پر پله پښه کېښوده او د خپل پلار په نامه یې یو شرکت پرانیست؛ ځکه ده په ۱۵ کلنۍ کې شرکت نه شوای پرانیستی.
له دویمې نړیوالې جګړې وروسته یې د امریکا په ختیځ کې پانګونې او ملکیتونو ژوند یوځل بدل کړ، ځکه چې په ډېری پروژو کې د حکومت ملاتړ هم ورسره و. په ۱۹۵۴ ز کال مشرانو جرګې ته له دې کبله ور غوښتل شوی و چې ګټې له دې پروژو خو به ناوړه ګټه نه اخلي. فرېډ یو بریالی سوداګر و، هغه په امریکا کې عصري او تر ټولو بهترین رسټورانټ جوړ کړ چې وروسته یې دغه کار ته پراختیا ورکړه او په همدې کار کې میلیونر هم شو. هغه وخت په امریکا کې د میلیونرانو شمېر ډېر نه و، ځکه خو نوموړی هم له ډېر شهرته برخودار و. فرېډ سرمایه ګزاري کوله او تل به یې ویل چې پیسې پیسې ګټې. هغه وو چې یو وخت یې نوم د امریکا د ډېرو کمو میلیاردرانو په قطار کې راغی. فرېډ په امریکا کې ډېر مشهور سوداګر و او په خیریه کارونو کې یې هم خپله سرمایه مصرفوله؛ ځکه خو به خلکو ورته د مهربان سړي خطاب کاوه. فرېډ نرم زړی او خاکساره انسان و.
فرېډ د تېرې پېړۍ له دېرشمو تر پنځوسمو کلونو پورې د مالي کسر پرمهال یې له فدرالي ادارې ډېر پورونه واخیستل.
د استوګنیزو ملکیتونو سربېره چې منځنیو کورنیو او له دویمې جګړې راستنېدونکو ته یې کورونه ورکول، سوداګریز بازار ته ننوت. همدا وو چې نیویارک کې یې د ووډ هافن په نوم بازار پرانیست چې شعار یې و: «ځان ته خدمت وکړه او پانګه زیاته کړه.»
ټرمپ په ۱۹۸۷ ز کال «د معاملو هنر» نومي کتاب کې د خپل پلار په اړه وایي، د ورځې له کار وروسته به هغه د پروژو کار ته ورتلو، مېخونه به یې له ځمکې راپورته کول چې په بله ورځ سهار یې کارګر وکاروي.
په همدې کلونو کې د فرېډ لور او د امریکا د اوسني ولسمشر ډونالډ ټرمپ مشره خور ماریاني ټرمپ باري د امریکا استیناف محکمه کې مشهوره مشره قاضي وه، په همدې وخت کې د فرېډ وضعیت د پخوا په پرتله ځکه ښه شو چې نور یې نو پر ځان باور لا ډېر شو او پوهېده چې د خپلې لور په مرسته به ډېر هغه کارونه وکړي چې ده یې پخوا فکر هم نه شو کولی.
فرېډ فکر وکړ چې باید داسې یوه سوداګري پیل کړي چې په لږ وخت کې ډېره سرمایه وګټي. هماغسې وشول. فرېډ ټرمپ د اوږدمهال لپاره دفتر ولاړو نه او دوسیې به یې په تخرګ کې ورسره ګرځولې، خو کله یې چې دفتر وموند، ډېر خاکساره انسان و.
پر نوموړي تورونه هم پورې کېدل، ځکه ده یوازې هغه خلک ټارګېټ کړي وو چې ده به ترې ډېره ګټه کولی شوه او دا خلک سپین پوستي وو. نوموړي په هغه وخت کې هم پر ده د لګېدلو تورونو په غبرګون کې ویلي وو چې دی توکم پالنه نه کوي: «په دې کې شک نشته چې سپین پوستي په معاملاتو کې نرم دي او هغه خلک چې زه ورسره معامله کوم زه یې له نږدې پېژنم. پر ما د توکم پالنې تورونه ځکه لګېدلي چې زه له تور پوستو سره معامله نه کوم. دلیل دا دی چې تور پوستي خو لومړی زه ډېر پېژنم نه او بله دا چې هغوی ډېر سرسخته خلک دي. لږ وېره راسره وي چې هسې نه په معاملاتو کې مو ستونزه رامنځته شي، خو په خپل کار کې مې ستونزه راته د منلو وړ نه ده.»
د تېرې پېړۍ ۷۰ مو کلونو کې د لړکیو پر ضد په توکم پالنه تورن شو؛ ځکه ویل کېدل چې ګنې تور پوستو او له پورټوریکو نه د ملکیتونو اجاره کوونکو سره معامله نه کوي.
د نوموړي پر ضد ملکي دعوه جوړه شوه. له هماغه وخت راهیسې یې زوی ډونالډ ټرمپ د خپل پلار ټینګه دفاع پیل کړه. وروسته په قضیه کې مجرم ونه پېژندل شو.
نوموړي یهودانو ته هم ډېر ملکیتونه اجاره کړي وو، خو د خپل اصلیت په اړه به یې دروغ ویل، ده به ځان د سویډن معرفي کاوه، نه د جرمني. په ۲۰۱۵ ز کال کې، د ۱۹۲۷ ز کال یو پخوانی خبر خپور شو چې ګنې ۲۱ کلن ځوان فرېډ ټرمپ د «کولوکس کلېن» د غونډې پرمهال ونیول شو، خو له تورونو پرته بېرته خوشی شو.
د فرېډ ټرمپ د شخصي ژوند په اړه ویل کېږي چې په ۱۹۳٦ ز کال یې له سکاټلنډي ټاپو لیویس نه د کورني کار په موخه له راغلې کډوالې ماري ان ماکلوېډ سره یې واده وکړ او د امریکا د اوسني ۴۵ م ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ګډون یې پنځه بچیان ترې وزیږېدل.
ماري ۱۹ کلنه وه چې نیویارک ته ولاړه. شپږ کاله وروسته یې له فرېډ سره واده وکړ او دواړه د کوین په نوم ښتمنې سیمې ته ولاړل او هلته نوموړې په خیریه کارونو بوخته شوه. هغې په ۱۹۴۲ ز کال د امریکا تابعیت ترلاسه کړ.
تر ډونالډ ټرمپ ځلور کاله مشره خور الیزابېټ د بانک کارکوونکې وه، چې له فلمي پروډیوسر جېمز ګرا سره یې واده وکړ.
ده هیله لرله چې اداري چارې یې مشر زوی فرېډ جونیر پر غاړه واخلي، خو د هغه له هوایي چارو سره جوړه وه او په ۴۳ کلنۍ کې د ډېرو شرابو څښلو له کبله ومړ؛ همدا وو چې ډونالډ ټرمپ ته د ټولې کورنۍ د اداره کولو چارې ورپاتې شوې.
ټرمپ هغه وخت چې د کور مشري ور ترغاړې شوه، یو ځل بیا د رسنیو خولې ته کښېوت. په نوموړي پسې ویل کېدل چې پلار یې له امریکایي حکومت نه قرضداره دی او شاوخوا ۴۴۰ میلیونه ډالره مالیه یې نه ده ورکړې چې د هغه ټوله سرمایه اوس ډونالډ ټرمپ ته پاتې ده او ټرمپ یې اوس باید پرې کړي.
خو ټرمپ په ډېریو ټاکنیزو کمپاینونو کې ویل چې ګوندې د ده سرمایه د پلار نه، بلکې خپله ګټه یې ده، خو له خلکو سره دا پوښتنه مطرح کېده چې د ټرمپ په څېر سرمایه لرونکی کس څنګه کولی شي ووایي، چې ده د خپل پلار په یو میلیون ډالرو کاروبار پیل کړ. خامخا د پردې تر شا څه شته چې ټرمپ یې غواړي پټ کړي.
خو ټرمپ په وار وار د رسنیو تورونو ته په ځواب کې همدا یوه خبره کوله چې ده خپل کار په خپله پیل کړی او د پلار په یو میلیون سرمایه یې کارو بار پیل کړی دی. د پلار سرمایې نه خبر هم نه دی چې چېرته ده او چا سره ده، خو دی اړ نه دی چې د پلار د سرمایې پاتې مالیه ورکړي.
هغه د ولسمشریزو ټاکنو د یو کمپاین پر مهال وویل: «اوس رسنیو راپسې اخیستي ده، تل تورونه لګوي او وایي چې ټرمپ دومره پیسې له کومه کړې. ما پیسې ګټلې دي، هر څوک که وغواړي یو څه لاس ته راوړي کولی شي. رسنۍ چې شیطانت کوي، ښه نه کوي او بې ځایه یې چې کوي، نو بد کوي. دوی زما د پلار د سرمایې مالیه پر ما را اچوي، په داسې حال کې چې زما کاروبار خپل دی او ما په خپلو پیسو خپل کار پیل کړی دی، نه د پلار په سرمایه. هو یوه خبره باید واضېحه کړم او هغه دا ده چې زما پلار سرمایه دار و، پوهېږی هغه ډېرې پیسې درلودې، خو نه یې له مالیاتو خبر وم او نه یې له سرمایې. کله چې ما خپله کار پیل کړ، په هغو ورځو کې ما یو میلیون امریکایي ډالرو ته اړتیا لرله چې ما مې له خپل پلار نه قرض کړې او کله مې چې کار په پښو ودرېد، بېرته مې ورته ورکړې. هو زه له خپل پلار نه هم د پیسو د پور او هم بېرته د ورکړې اسناد لرم.»
نوموړي په یاده غونډه کې رسنیو ته په اشاري ټوکه وویل: «دوی دې بې ځایه تورونه نه لګوي، که پیسو ته یې زړه کېږي له بلې لارې یې دې وګټي، زه یوه روپۍ هم چا ته نه ورکوم.»
فرېډ ټرمپ په ۱۹۹۱ ز کال کې د خپل زوی ډونالډ ټرمپ ملکیت او قمار ځای «کازینو تاج» له دیوالي کېدو وژغوره او په ۱۹۹۹ ز کال کې ومړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۸۵ |
| € | ۸۷,۳۰ |
| Rp. | ۵۸۱ |
| ₹ | ۱۰۳۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۸,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

## همیانۍ

# انټرنېټ او نوې نړۍ ؛ ګټې او زیانونه یې!

**ژباړه: نور احمد فضلي** www.yaraan.com

موږ ټول په ورځني ژوند کې د انټرنېټ له ګټو خبر یو، خو له بلې خوا انټرنېټ مو په شخصي او کورني ژوند، فرهنګ، اړیکو او ټولنیزو تعاملاتو کې یو لړ منفي تاثیرات هم راوستلي دي چې په لاندې توګه ورته اشاره کوو:

**۱- اړیکې**

انټرنېټ مو د دوستانو او حتی په کاري چاپېریال کې له همکارانو سره د تعامل او اړیکو ډول بدل کړی دی. د بېلګې په ډول، مخکې به مو د خپلو احساساتو د بیان لپاره په قهقهه سره خندل، خو اوس یې پر ځای د انګلیسي درې توري (Lol) کاروو او د خوشحالۍ احساسات یا خندا مو په ډیجیټلي ډول شریکوو.

**۲- چټکتیا**

اطلاعاتو او ارتباطاتو ته چټک او اسان لاسرسي مو توقعات او معیارونه لوړ کړي دي. په دې ډول چې د زیاتې چټکتیا سره په اموخته کېدو سره، کرار کرار مو په شخصیت کې د عجلې یا تلوار فرهنګ غوړېږي. داسې چې احصائیو ښودلې ده، که چېرې پر لیکه ویډیو په لومړیو دوو ثانیو کې ښکاره نه شي، ډېری خلک همغه صفحه پرېږدي.

همدارنګه دغه اسانه لاسرسي مو د خوب ورکولو وخت او د تحمل سطحه راکمه کړې ده، داسې چې ډېری کسان که ژر خوب ترلاسه نه کړي، ناراحته کېږي یا حتی په ځینو وختونو کې د دوی د اندېښنې او عصبانیت سبب کېږي.

**۳- دوستي**

انټرنېټ مو د دوستۍ ډول هم تغیر کړی دی. تېر یې حال ته راوړی او تېرې پېښې یې داسې ثبت کړې چې په حال کې هم ډېری کسان لکه څنګه چې اړتیا وي، خوب ویونکي اوسي. حقیقي او مجازي دوستان یې داسې سره تثبیت کړي دي چې له پېښو او شخصي ژونده یې لرې والی او ایسته کول تقریباً غیر ممکن شوي دي.

**۴- سیالي**

د شاوخوا کسانو عکسونو ته اسانه لاسرسی د زیاتې مقایسې او سیالۍ سبب شوی دی. سره له دې چې پوهېږو، عکسونه یوازې د ژوند خوشحاله شېبې ثبتوي او د هغوی واقعي ژوند او ربړې نه انځوروي، خو په لاشعوري توګه ځانونه له نورو سره مقایسه کوو او د نورو پر ژوند باندې په تمرکز کولو سره د خپل ژوند له واقعیت څخه واټن نیسو او د وخت په تېرېدو سره مو ځان او دوستانو ته ناهیلي ورکوو او خپل سکون له لاسه ورکوو.

**۵- توانایي**

انټرنېټ د خلکو افکار او غږ ته توانایي ورکړې ده. خلک د خپلو عکسونو او ویډیوګانو په شریکولو سره توانېدلي دي چې پر خپله څېره نقاب وغوړوي؛ داسې څېره جوړه کړي چې د دوی له ذات او اصلیت سره تفاوت لري. همدارنګه د کاذبو شغلونو په رامنځته کېدو سره لکه پلورونکی، مشاور، بدن جوړوونکی او... د دې شاهدان پاتې شوي یو چې تر ډېره نه کوم اعتبار، مدرک، جواز او کافي تجربه لري، خو د دنیا په ګوټ ګوټ کې ډېر ملاتړي او دوستان لري.

**یو بل تعریف**

نو راځئ چې د دوستۍ تعریف هم بدل کړو چې د دوستۍ دنیاګۍ هم اوس څه بل رنګ ده. د خپل در په دېوال ګاونډي له حاله ناخبره، خو د دنیا په بل کونج کې د هغه ځای له غریبانو خبر یو. په مجازي نړۍ کې زموږ تفریح او استوګنه د حقیقي دوستانو له فزیکي حضوره پرته محدوده شوې ده.

د نړۍ له حاله خبرېدل هم بدل شوي دي. نن ورځ یوازې د مشهورو کسانو له ژونده په خبرېدو پسې نه ځو، بلکې د هغو کسانو شخصي ژوند چې په هر رقم مشهوره شوي دي، یا یې د خلکو په دماغونو کې جالبه مجازي کرېکټرونه رامنځته کړي دي؛ هم زموږ لپاره په زړه پورې دي او هومره په دې بې ګټو او بېهوده پېښو او جریانونو کې ژور تللي یو چې د خپل ژوند ستونزې او ربړې مو هېرې کړې دي او د ځان او ژوند ارزښت مو د نورو له طرفه په یوه لایک یا کمنټ کې وینو.

**٦- سفر**

سفر هم خپله معنا تغیر کړې ده. داخلي سفرونه اوس سفر نه شمېرل کېږي، ځکه چې د ملګرو د شریک شوو عکسونو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د انسټاګرام کاروونکو په مقابل کې، اوس له تاریخي کندهاره لیدنه یا د هېواد شمال او نورو ښارونو ته تلل نه تر سترګو کېږي.

خلک اوس د دې پر ځای چې له خپل سفره خوند واخلي، تمرکز یې پر عکسونو او بیا په مجازي نړۍ کې د هغو په شریکولو دی. اوس د دوستانو او ملګرو سره له نږدېوالي خوندونه په مجازي نړۍ کې د دوستانو سره د عکسونو په شریکولو او ورڅخه خوند اخیستلو ته لېږدول شوي دي، هرڅو که حقیقت هم نه لري.

**۷- واده**

انټرنېټ سره له دې چې خلکو ته یې لاسرسی اسانه کړی دی، د افرادو ترمنځ یې د معرفي کېدو شرایط چمتو کړي دي، خو انتخاب یې ستونزمن کړی دی او د زیاتو انتخابونو د شتون په وجه یې تصمیم نیول هم ستونزمن کړي دي.

د تندو او چټکو احساسي اړیکو رامنځته کېدل، کاذبي، موقتي او سطحي مینې د واده جریان او ارزښتونه متغییر کړي او د ګډ ژوند اړیکو د متزلزل کېدو سبب شوي دي. زموږ په دې نوې نړۍ کې انسان اوسېدل، مینه، باور، درنښت، مهرباني، صبر او تېرېدنه چې د ګډ ژوند او اړیکو اصلي ارونه دي، پیکه شوي دي.

حتی د متمدن کېدو سره سره چې انټرنېټ په هغه کې زیات رول لري، غیرمتجانس ودونه له ټولنیز، فرهنګي، مالي، مذهبي او تحصیلي اړخه زیات شوي دي چې کېدلی شي د ناموفق کېدو او حتی ګډ ژوند جلا کېدو لپاره دلایل واوسي.

**۸- د ښکلا جراحي**

د NewMediaTrendWatch د راپور پر اساس په ټوله نړۍ کې تر یو میلیارد ډېر کسان له ټولنیزو شبکو کار اخلي چې له دوی څخه نیمایي یې په ورځ کې تر یوه وار زیات استعمالوي. متخصصین وایي چې د دې شبکو دومره محبوبیت نه یوازې د ماشومانو د روزنې په ډول اغېز کړی دی، بلکې تر دې چې د جراحي عملیاتو د ډېرېدو سبب هم شوی دی او تر ټولو د حیرانتیا ځای دا دی چې د ښکلا جراحۍ ډول ډول شاخصونه یې هم رامنځته کړي دي.

**ښه دی چې پوه شو چې ولې د ښکلا جراحۍ عملیاتو دومره زور اخیستی دی؟**

وګړي په مجازي نړۍ کې د خپلو عکسونو او څېرو په شریکولو او ښکاره کولو او بیا له خلکو د مثبتو او منفي نظریاتو په تعقیبولو سره تصمیم نیسي او بیا یې په خپل وجود کې د نس، پزې، اوږو او... جراحۍ ته پام کېږي، څو د ټولنیزو شبکو د معیارونو د تقاضا او میل مطابق جوړ شي، پرته له دې چې پوه شي دا کړنې او تغییرات بیا نه راګرځېدونکي دي او په ځینو مواردو کې جدي ربړې تر شا پرېږدي چې د فرد روغتیا د زیان او خطر سره مخامخ کوي.

**۹- تمرکز**

د ورځنیو چټکو اطلاعاتو جریان د دې سبب شوی چې د څنډ پر وړاندې ډېر حساس اوسو او همدارنګه یې زموږ د اوږدمهالې حافظې او تمرکز پر وړتیا تاثیر پرې ایښی او زموږ ذهن یې د لنډمهالو پرېکړو او تصمیمونو پر لور سوق کړی دی. همدا وجه ده چې په هره عرصه کې د خلکو د موفقیت او موثریت کچه هم له همدې عدم تمرکزه پیکه شوې ده.

**۱۰- شخصي حریم**

د خلکو شخصي، کاري او خصوصي حریم د دې متمدن واله تر تاثیر لاندې راغلی دی، په داسې شکل که چېرې یو څوک نه غواړي چې دې مجازي نړۍ ته دې راشي، دوستان او ملګري د نورو د عکسونو یا مالوماتو په شریکولو سره د فرد خصوصي حریم ته بې احترامي کړې ده. همدارنګه دا د دې سبب شوي دي چې خلک څه بل ډول سلوک غوره کړي او د خپلو کړنو، خبرو او لیکنو سره محتاط اوسېږي چې دا زموږ پر فرهنګ باندې یو له اغېزمنو لاملونو څخه دی.

**نتیجه:**

په خوب کې دوو مطالبو ته نغوته کولای شو: اګاهي او مدیریت، چې البته شکل یې د هر چا لپاره په فرد پورې منحصر او متفاوت دی او کوم ځانګړی او ګډ فورمول نه لري.

په ټولیز ډول کولای شو د خپل شخصي ژوند مدیریت زموږ پر شاوخوا چټکو تغیراتو ته په پام سره، پیاوړی او تمرین کړو. دا چې یا خو کولای نه شو او یا نه غواړو چې د دغو تغییراتو مخه ونیسو، باید ځانونه د نوې نړۍ سره موافق جوړ کړو او پر خپلو ارو او اصلي موخو متمرکز اوسو، څو لاره مو نه وي غلطه کړې او د مکې پر ځای ترکستان ته لاړ نه شو. دغو عواملو یوازې انحراف رامنځته کړی چې د ژوند تېز سرعت ته په کتلو سره کولای شي ورځ تر بلې موږ له خپلو اصلي موخو لرې کړي؛ ځکه نو په لومړي قدم کې باید ځان پېژندنې او پر خپلو کمزورو ټکو پوهېدلو ته پاملرنه وکړو او په دویمه مرحله کې باید له تغیراتو، رامنځته کوونکو لاملونو او د تغیراتو له ربښو څخه خبر اوسو او وروسته له هغه سره تر ممکنه بریده د مقابلې لارې چارې وپېژنو. په پای کې د دې سپارښتنه هم کوو چې ځانونه مثبتو ټکو ته متمرکز کړئ، څو له دې تغیراتو ګټه واخلی.

همدارنګه د نوې نړۍ سره ژر برابرېدل او د پرله پسې پرتلنې نه تمرین او د ژوند د هرې دورې( په هر ځای او هر رنګه شرایطو کې) پر ښو او مثبتو څیزونو متمرکز کېدل او پر ځان باندې د منفي تاثیر تغیر، هغه څه دي چې ټول یې باید تمرین وکړو.

**بله نړۍ:**

په ورځني ډول انټرنېټ ته اړتیا او ورسره عادت کېدل اوس د اعتیاد تر بریده رسېدلې ده. داسې چې که هغه ته لاسرسی ونه لرو، سکون او ارام مو سلبوي او که د ډېر وخت لپاره د دوستانو او ملګرو سره په مجازي نړۍ کې اړیکې ونه لرو، نو دا مو د خپګان او سردرد سبب هم کېدلای شي.

- هره ورځ تر ۲۳۰ میلیونو زیات ټویټونه لېږل کېږي.
- هره ورځ په فېسبوک کې تر ۸۰۰ میلیونو پوسټونه کېږي.
- په ورځني ډول په یوټیوب کې شلور میلیونه کسان ویډیوګاني ګوري.
- په یوازې توګه هره ورځ په ګوګل کې تر یو میلیارد ډېر سرچ (لټون) کېږي.
- په هره دقیقه کې یوټیوب ته تر ٦۰ ساعته زیاتې ویډیوګاني پورته کېږي.
- په ورځني ډول شلور میلیونه کسان له یوټیوب څخه ویډیوګاني شریکوي.

په نړۍ کې د انټرنېټ کاروونکو له لوري هغه اوسط تېر شوي ساعتونه په هره میاشت کې ۱٦ ساعته وي چې:

- ۲۲٪ په ټولنیزو شبکو کې،
- ۲۱٪ په پلټنې یا سرچ کې،
- ۲۰٪ د مطالبو په لوستلو کې،
- ۱۹٪ په برېښنالیک او اړیکو نیولو کې،
- ۱۳٪ په خبري سایټونو کې،
- ۵٪ په پر لیکه پېر او پلور کې خپل وخت مصرفوي.

اوس پوښتنه کوو چې ایا زموږ نړۍ نه ده بدله شوې؟ ایا کولای شو د تېر په څېر ژوند او حتی فکر وکړو؟ یا که باید ځانونه له نوې نړۍ سره تغییر او برابر کړو!؟

# د المپیک ملي کمېټه: حکومت دې پر احمدولي هوتک برید کوونکي د قانون منګولو ته وسپاري

د المپیک ملي کمېټې د فري فایټ لوبو پر اتل احمدولي هوتک د شوي برید په اړه د جدي څېړنو غوښتنه کړې ده.

د المپیک د ملي کمېټې سکرتر جنرال یونس پوپلزي پرون په دې اړه د اندېښنې په څرګندولو سره ازادي راډیو ته ویلي چې امنیتي ارګانونه باید د دې پېښې عاملین ژر تر ژره ونیسي او د قانون منګلو ته یې وسپاري.

پوپلزی زیاتوي: «موږ په لومړي قدم کې دغه عمل د خپل یو ملي اتل په وړاندې چې خپل هېواد ته یې ډېرې لاسته راوړنې لرلې دي، په کلکو ټکو غندو، دا اعمال غیر انساني، غیر بشري او غیر اسلامي دی، هغه هم په داسې حال کې چې یو لوبغاړی سیالیو ته تیاری نیسي، له حکومته مو په دې برخه کې جدي غوښتنه ده چې د پېښې عاملین ونیسي او قانوني چلند دې ورسره وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې ورمه شپه شاوخوا ۱۱ بجې څو تنو ناپېژاندو کسانو د کابل ولایت د بګرامیو ولسوالۍ په حسین خېلو سیمه کې د رزمي لوبو د اتل احمد ولي هوتک کور ته څېرمه د هغه پر موټر ډزې کړې او تر هغې وروسته یې نوموړی په چړو او سوکانو وهلی دی.

په ټولنیزو رسنیو کې په خپرو شویو ویډیوګانو او انځورونو کې لیدل کېږي چې احمدولي هوتک په ګېډه، سر او د اوږو په برخه کې ټپي شوی دی.

له دې پېښې څو ساعته وروسته احمد ولي هوتک په یوه ویډیویي پیغام کې چې تر څنګ یې د المپیک د ملي کمېټې رییس او مرستیاله هم لیدل کېږي، د خپل روغتیایي حالت ډاډ ورکړ او ویې ویل چې خپل هېواد او ولس ته یې د خدمت په لار کې دا شان بریدونه د ده د کړې هوډ مخه نه شي نیولی.

د کورنیو چارو وزارت مرستیال ویاند نصرت رحیمي وایي چې په احمدولي هوتک د برید کوونکو شمېر پنځه تنه و چې د نیولو لپاره یې هڅې روانې دي.

رحیمي ویلي: «کورنیو چارو وزیر د جنایي څېړنو موظفینو او د کابل پولیسو ته په جدي توګه هدایت ورکړی دی چې د دې پېښې عاملین ژر تر ژره ونیسي او د قانون منګولو ته یې وسپاري». د رزمي لوبو دغه افغان اتل تر دې مهاله شل نړیوالې لوبې کړې چې په ۱۹ کې یې بریاوې خپلې کړې دي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily








سه شنبه د ۱۳۹۷ د تلې ۲٤مه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۱٦مه | دویم کال | ۲٦۹مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۰ | ۲٦ | ۱۲ | ۲٤ |
| ۳ | ۵ | ۹ | ۵ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۷ | لمر ختل ۰۵:۵۹ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیگر ۰۳:۳۸ | ماښام ۰۵:۱۸ | ماخوستن ۰٦:٤۲

## نړۍ




## کمیسیون انتخابات: رسانه ها تا فردا از تبلیغات نامزدانی که نشر کرده گزارش دهند



کمیته رسانه‌های کمیسیون انتخابات می‌گوید رسانه‌ها مکلف اند که فردا گزارش مالی تبلیغات نامزدانی را که به نشر رسانده اند، به این کمیته ارائه کنند.

رفیع صدیقی رییس کمیته رسانه‌های کمیسیون مستقل انتخابات دیروز گفت، از وظایف مهم این کمیته، بررسی مصارف نامزدان در کمپاین های انتخاباتی و اخذ گزارش مالی تبلیغات نامزدان در رسانه‌ها می‌باشد.

به باور این مسئول کمیسیون انتخابات، نامزدان انتخابات بیشتر در رسانه‌ها تبلیغ نموده اند و بیشترین هزینه را در این بخش به مصرف رسانده اند و با در نظر گرفتن مصرف تبلیغات آنها در رسانه‌ها، هزینه مصارف تبلیغات نامزدان به خوبی سنجش می‌شود. صدیقی به خبرنگاران گفت که کمیته رسانه‌های کمیسیون انتخابات، ۵۲ نامزد را شناسایی کرده که در کمپاین های تبلیغاتی شان تخلف کرده اند و آنها به پرداخت کمتر از ۱۰۰ هزار افغانی با تناسب تخلف شان جریمه شده اند.

او همچنان افزود؛ یک تیم ده نفره مصارف نامزدان را در کمپاین های انتخاباتی بررسی می‌کنند و اکثریت نامزدان انتخابات فورم‌های گزارش مالی تبلیغات شان را خانه‌پری کرده‌اند. کمیته رسانه‌های کمیسیون انتخابات می‌گوید بررسی‌های مصارف نامزدان انتخابات را درکارزهای انتخاباتی جدی انجام می‌دهد و با نامزدان مختلف، قانونی برخورد می گردد.

این درحالی است که نهادهای ناظر انتخابات شکایت دارند که شماری نامزدان انتخابات بیشتر از حدی که کمیسیون انتخابات تعیین کرده است پول مصرف کرده اند.

کمیسیون انتخاب حد نهایی مصرف تبلیغات پیکارهای انتخاباتی را با در نظرداشت شرایط جغرافیای از ۸۰۰ هزار افغانی تا دو میلیون ۹۰۰ هزار افغانی تعیین کرده؛ اما گزارش‌های وجود دارد که بعضی نامزدان در کابل و سایر شهرها، صدها هزار دالر هزینه تبلیغات انتخاباتی شان کرده اند.






## د بخښنې نړیوال سازمان د امریکا په مشرۍ داعش ضد ائتلاف غندلی دی

د بخښنې نړیوال سازمان د امریکا په مشرۍ پوځي ائتلاف له دې کبله غندلی چې په رقه ښار کې د داعش پر ضد د جګړې په ترځ کې ولسي خلکو ته د اوښتې مرګ ژوبلې په منلو یا په دې برخه کې په کافي اندازه څېړنو کې پاتې راغلی دی.

د سوریې پر رقه ښار د امریکا په مشرۍ ائتلاف له دې ښاره د اسلامي دولت د وسله والې ډلې د ایستلو لپاره هوایي بریدونه کړي وو.

په هغه راپور کې چې پرون دوشنبه د بخښنې نړیوال سازمان خپور کړی ویل شوي، د ائتلاف دا اقدامات په رقه ښار کې د هغو ژوندي پاتې شویو پر مخ څپېړه ده چې هڅه کوي بېرته خپل ژوند جوړ کړي.

د بخښنې د نړیوال سازمان منشي کومي نایډو وایي: «دا ځورونکې ده چې پنټاګون حتی دېته هم چمتو نه ښکاري چې د رقې په جګړه کې د سلګونو ملکیانو د وژنې له کبله بخښنه وغواړي.»

پنټاګون چې تر دې مخکې یې د بخښنې د نړیوال سازمان د څېړنو پر میتود نیوکه کړې وه، په سپټمبر کې په یوه بیان کې ویلي وو، دوی په خپلو هوایي بریدونو کې په پوره دقت د اهدافو په نښه کولو ته دوام ورکوي، څو په سیمه کې په ملکي خلکو او تاسیساتو د عملیاتو اغېزې تر ټولو کمې کچې ته ورسوي.

## ریاض: که د خاشقجي له کبله وګواښل شو، سخت غبرګون به وښیو



سعودي عربستان وايي که د جمال خاشقجي د تري تم کېدو په سبب وګواښل شي، نو تونډ غبرګون به وښيي.

د سعودي دولتي ټلوېزيون د سعودي چارواکو خبري خپرې کړې چې هر ډول اقتصادي ګواښ ته یې د ځواب ویلو سینه ډېولې ده.

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي وو، که سعودي عربستان جمال خاشقجي وژلی وي، نو د خپل دغه کار درنه بیه به پرې کړي.

جمال خاشقجي عرب خبریال و چې په وروستیو کې یې د سعودي پر حکومت نقدونه کول.

نوموړی له تېرو څو ورځو راهیسې په ترکیه کې تري تم شوی او راپورونه وايي چې ښايي د سعودي کونسلګرۍ وژلی وي.

رسنیو ته په رسېدلو تصویرونو کې ښکاري چې خاشقجي په ترکیه کې د سعودي عربستان کونسلګرۍ ته ننوځي، خو بېرته نه دی راوتلی.

په همدې حال کې ترکیه وايي، داسې اسناد یې موندلي چې د خاشقجي وژنه تاییدوي.

د ترکیې امنیتي سرچینې وايي، دغه عرب خبریال په کونسلګرۍ کې له سختې شکنجې وروسته وژل شوی او د بدن غړي یې پرې شوي دي.

جمال خاشقجي د سعودي شاهي کورنۍ ته نږدې شخص و، خو کله چې ملک سلمان خپل زوی محمد د ولیعهد په توګه وټاکه، نو خاشقجي هم ناراضه شو او امریکا ته یې کډه وکړه.

هغه په وروستیو کې له خپلې ترکۍ ملګرې سره د واده لپاره دغه هېواد ته تللی و. ویل کېږي چې د سعودي کونسلګرۍ ته هم د خپلې کوژدنې د کوم کار د خلاصولو لپاره تللی و چې بیا راستون نه شو.